مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۱۵

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
(یوسلاو یولسمه برخه)

### عبدالحق واله

د حبیب الله کلکاني د باندنیو چارو د وزیر، عطاء الحق واله زوی په ۱۹۲۷ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. په ۱۹۴۸ز کال کې د غازي له لیسې څخه فارغ سو او وروسته د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ سو. د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په بېلابېلو څانګو کې ئې کار وکړ. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۴ز کال پورې په واشنګټن ډي. سي. کې مطبوعاتي اتشه. لیکوال او شاعر. په ۱۹۶۸ز کال کې د کاروان محرر. د خپل اکا شیر جان له لور مهتاب سره ئې واده کړی دئ؛ شیر جان د حبیب الله کلکاني د دربار وزیر وو. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

### ډاکټر عبدالشکور ولي

په ۱۹۱۱ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. د استقلال له لیسې څخه له فراغت وروسته خپل لیسانس او دکتورا ئې په ریاضیاتو کې د فرانسې – ژ د تولوز [1] څخه تر لاسه کړه. له ۱۹۴۵ تر ۱۹۵۰ز کال پورې د استقلال د لیسې مدیر. په ۱۹۵۲ز کال کې په پاریس کې د کلتوري دفتر مشر. په ۱۹۴۳ز کال کې او له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي مدرس. د مشرانو جرګې انتصابي سناتور. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

**ډاکټر شاه ولي** : وګورئ : شاه ولي

### عبدالاحد وردک

د شورې د رئیس په نوم د مشهور د قاضي غلام زوی، د ۱۸۸۰ز کال په شا وخواوو کې زیږېدلی دئ. دی یو اسمعیل خیل غلزی دئ. د «سردار اعلی» لقب ئې اخیستی دئ. له دې چې د ډېرې مودې لپاره ئې په وردکو کې ژوند کړی دئ نو د وردکي په نوم شهرت لري. له ۱۹۰۹ تر ۱۹۱۶ز کال پورې د امیر حبیب الله عرض بیګي/ مشر یساول. د قطغن د حاکم په توګه مقرر سو. په ۱۹۱۹ز کال کې د امیر حبیب الله خان په قتل کې د لاس لرلو په تور ونیول سو او تبعید سو خو وروسته ئې برائت واخیست. په ۱۹۲۲ز کال کې د امیر امان الله خان یاور مقرر سو. د منګلو د اغتشاش پر

[1] -Toulouse


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مهال له ۱۹۲۴ تر ۱۹۲۵ز کال پورې وردک ته واستول سو چې شاه ته د وردکي ولس وفاداري وساتي. اروپا ته د امیر امان الله د سفر په غیابت کې دی د څلورو میاشتو لپاره د مشرقي والي وو خو له هغه وروسته له کاره رخصت او مسکو ته واستول سو چې له امان الله خان سره وګوري. د ۱۹۲۸ز کال د جولای په میاشت کې کابل ته راستون سو. د ۱۹۲۸ز کال د نوامبر په میاشت کې د کورنیو چارو وزیر مقرر سو. له کندهار څخه ئـي د امیر امان الله خان ملاتړ وکړ ترڅو خپل سلطنت بیا اعاده کړي. د ۱۹۲۹ز کال د مي په میاشت کې له امان الله خان سره یو ځای وو وت او فارس ته لاړ. د ۱۹۲۹ز کال د دسمبر په میاشت کې بېرته افغانستان ته راستون سو. په ۱۹۳۰ز کال کې د ملي شورى رئـيس سو. د ۱۹۳۱ز کال د نوامبر په میاشت کې فراه ته د ملکي او پوځي چارو د مشر یا رئـیس تنظیمیه په توګه لاړ. د ۱۹۳۲ز کال په پسرلي کې کابل ته راستون سو او د ملي شورى د رئـیس په توګه وټاکل سو او یو ځل بیا په ۱۹۳۳ز کال کې د شورى د رئـیس په توګه وټاکل سو. د ۱۹۳۳ز کال د جون په میاشت کې ئـي له فارس سره د هلمند د اوبو پر سر د شخړې د هوارئ په کمیسیون کې خدمت وکړ. د ۱۹۳۳ز کال د اکتوبر په میاشت کې ئـي له صدر اعظم محمد هاشم خان او نورو سره د افغانستان له شمالي ولایتونو څخه لیدنه وکړه. په ۱۹۳۴، ۱۹۳۷ ، ۱۹۴۰ او ۱۹۴۳ز کلونو کې د شورى د رئـیس په توګه وټاکل سو. په ۱۹۴۹ز کال کې وفات سو.

## عبدالقیوم وردک

د محمد ابراهیم زوی، په ۱۹۲۳ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې ئـي لیسانس په ریاضیاتو کې د ایلي نویز له پوهنتون څخه تر لاسه کړ؛ او ۱۹۵۴ز کال کې ئـي خپله ماستري په اټومي فیزیک کې د جیورج ټاون له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۵۵ز کال کې افغانستان ته راستون سو. په شوروي اتحاد کې ئـي تکمیلي تحصیل وکړ. په ۱۹۵۷ز کال کې د ایلي نویز پوهنتون د اټومي علومو پوهنځي ته لاړ. په ۱۹۵۵ز کال کې په حربي پوهنتون کې د فزیک استاد. په ۱۹۶۰ز کال کې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي غړی. په ۱۹۷۲ز کال کې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي رئـیس. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د کانونو او صنایعو وزیر. په ۱۹۷۴ز کال کې د معارف وزیر. په۱۹۷۶ز کال کې د قبائیلو د چارو وزیر. ږ د پښتو په اکاډیمی کې له ښوونکي، او د ولسي جرګي له غړي معصومي عصمتي سره ئـي واده کړی دئ.

## حفیظ الله وردک

د بسم الله خان زوی په ۱۹۴۹ز کال کې د وردکو په جغتو کې زېږېدلی دئ؛ بسم الله خان د امیر امان الله خان پر مهال د وردکو د استازی محمد زرین زوی دئ. خپلې زده کړې ئـي په جغتو، د کابل د قاري عبدالله په ښوونځي او د حبیبیې په لیسې کې کړي او په ۱۹۶۵ز کال کې له نوموړې لیسې څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د امریکا په متحده ایالاتو کې په یوهٔ ښوونځي د کریډټ د بشپړلولو لپاره زده کوونکی وو. [2] له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د انجنیرئ د پوهنځي او د هاوايي د پوهنتون محصل چې په ۱۹۷۱ز کال کې د ساختماني انجنیر په توګه د لیسانس په اخیستلو فارغ سو. په ۱۹۷۳ز کال کې ئـي د او هایو د „ کیس ویسترن ریزرف " له پوهنتون [3]

[2] -Exchange Student

[3] -Case Western Reserve University



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

څخه خپله ماستري په ساختماني انجنیرۍ کې تر لاسه کړه. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئـې د کابل ټایمز لپاره د راپورټر په توګه نیم وقته کار وکړ او د سرې میاشتې د مجلې لپاره او د سرې میاشتې د راډیویي پروګرام لپاره ئـې کار وکړ. په افغان ساختماني کمپنۍ کې ساختماني انجنیر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د ټولګټو په وزارت کې. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل پوهنتون د انجنیرۍ د پوهنځي مدرس. د پوهنتون د څو کمېټو غړی. د کابل پوهنتون د ژورنالونو لپاره د یو شمېرتخنیکي رسالو لیکوال. د امریکا متحده ایالاتو ته راغی او په اوهایو کې او په ۱۹۸۱ز کال ئـې په شیکاګو کې د ساختماني انجنیر په توګه کار وکړ. د «افغانستان نیوز» [4] محرر چې په شیکاګو کې خپریدل. له ثریا سره ئـې واده کړی (چې یوه لوګرۍ ده) او درې بچیان لري.

## ډاکټر محمد عمر وردک

(د هاشم خان تر لاس لاندې د شورۍ د رئیس) عبدالاحد زوی. د ۱۹۶۷ز کال له نوامبر څخه د ۱۹۶۹ز کال پورې د کورنیو چارو وزیر. د ولسي جرګې رئیس. د ۱۹۷۸ز کال له جنوري څخه تر ۱۹۸۰ز کال پورې زنداني وو. په کابل کې ژوند کوي.

## عبدالغفور وصیل وردک

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې او د امریکا په متحده ایالاتو کې ئـې په عامه اداره کې تحصیل کړی دی. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د بېلا بېلو ولسوالیو ولسوال. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په صدارت عظمی کې د اداري اصلاحاتو مسؤول. د پروان والی. د ولسمشر داؤود پر مهال د کورنیو چارو د وزارت اداري رئیس. د ۱۹۷۸ز کال د جنورۍ په میاشت کې له خپلو دوه وو ورونو سره زنداني سو او تر ۱۹۸۰ز کال پورې په زندان کې پاتې سو. اوس په پاکستان کې د مجاهدینو د یوې ډلې غړی دئ. مورنی ژبه ئـې پښتو ده.

## عبدالخالق واسعي

د مولوي عبدالواسع زوی په ۱۹۱۰ (؟) زکال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ. خصوصي زده کړې ئـې کړي دي. په ۱۹۲۱ز کال کې په کندهار کې په «مکتبِ قضات» [5] کې او په ۱۹۲۳ز کال کې د «ګنج» [6] په ښوونځي کې ښوونکی وو. په ۱۹۳۳ز کال کې د کندهار د پښتو ټولنې غړی. په ۱۹۳۹ز کال کې د انیس کارمند. په ۱۹۴۱ز کال کې په راډیو افغانستان کې پښتو ژباړونکی. په ۱۹۴۳ز کال کې په کندهار کې د پښتو اکاډیمی غړی او ورسره هممهاله د کندهار د مطبوعاتو او اطلاعاتو د مدیریت مرستیال مدیر. د پښتو اکاډیمی غړی او وروسته په ۱۹۶۳ز کال کې ددې اکاډیمی مرستیال رئیس. د پښتو د پرمختګ د څېړنیزې کمېټې غړی. په ۱۹۶۵ز کال کې مشرانو جرګې ته انتصابي سناتور. مورنی ژبه ئـې پښتو ده. لیکوال او شاعر. د ۱۹۷۰ز لسیزې په اوږدو کې وفات سو.

[4] -Afghanistan News
[5] -Maktab-i-Quzat
[6] -Ganj School


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## عزیز الله واصفي

د عبدالرشید خان زوی په ۱۹۲۵ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ؛ (عبدالرشید خان د کورنیو چارو مرستیال وزیر او یو ځل د ولسي جرګي مرستیال رئیس وو)؛ عزیز الله واصفي د فرید رشید ورور دئ؛ (فرید رشید د باندنیو چارو د وزارت کارمند وو.) د کابل له پوهنتون څخه ئې لیسانس په حقوقو کې تر لاسه کړی دئ. د دولسي جرګي په دوه وو دورو کې د کندهار استازی. په ۱۹۷۳ز کال کې د ننګرهار والی. د ولسمشر داؤود ملاتړی. په ۱۹۷۵ز کال کې د کرني وزیر. په ۱۹۷۷ز کال کې د لویي جرګي رئیس. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل له میاشتي د ۱۹۸۰ز کال د جنوری تر میاشتي پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني. اوس په پېښور کې ژوند کوي.

**عبدالغفار وردک واصل** : وګورئ : واصل

## نور بیا

## عبدالرشید واثـق

په ۱۹۸۰ز کال د اپریل په میاشت کې د ولسمشر د دفتر رئیس. د...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ